مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۷ د کب ۲۰مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۱۱مه | دویم کال| ۳۴۸مه گڼه


# حنیف اتمر: په تېرو پنځو کلونو کې د جګړو له امله ۵۱ زره ملکي افغانان وژل شوي دي


۳


## هیواد
۴ مخ

### ناورو

د ناورو ډېری خلک په کانونو، اداري چارو، ښوونې او روزنې او ترانسپورټ برخو کې پر کار بوخت دي، چې د ژوند اړتیاوې له همدغو لارو پوره کوي.



### په هلمند کې د الووېرا طبي بوټي کرکیله پیل شوه



د هلمند د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست له خوا د لومړي ځل لپاره د دغه ولایت په مرکز لښکرګاه کې د الووېرا طبي بوټي کرکیله پیل شوه.
د دغه ولایت د کرنې رییس زلمي الکو پرون ازادي راډیو ته ویلي، چې د الووېرا بوټي ارزښت ته په کتو غواړي، په دغه ولایت کې د الووېرا کرکیله ترویج کړي، څکه له یوې خوا د کوکنارو ښه بدیل دی او له بلې خوا د بزګرانو په اقتصادي وده کې هم رغنده رول لري.
الووېرا طبي بوټی دی چې د پوستکي په ښایست، د خولې او معدې ناروغۍ په درملنه، د بدن د مسمومتیا په مخنیوي او د وېښتانو د روغتیا په ساتنه کې ترې استفاده کېږي.
د هلمند د کرنې ریاست هڅه کوي چې د نباتي افتونو او ناروغیو مخه په میخانیکي ډول ونیسي، چې هم روغتیایي او اقتصادي ګټې لري او هم چاپېریال ته زیان نه رسوي.

### د سولې په اړه د ولسمشر متضادې او مبهمې خبرې
۲ مخ

### یو ځای څه ډول د یونسکو په نړیوال میراث بدلېږي؟
۵ مخ

### ایتوا: ولسمشریزې ټاکنې دې د شفافیت لپاره تر دوو میاشتو وځنډېږي

که څه هم راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته شاوخوا درې میاشتې پاتې دي، خو پر ټاکنو څارونکې اداري یې د شفافیت په تړاو اندېښمنې دي او وایي، که یادې ټاکنې د شفافیت په هدف ځنډول کېږي، باید ورته لبیک وویل شي.
پر ټاکنو د څار اداري په انتخاباتي بهیر کې موجوده ستونزو ته په کتو وایي، راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې دې د شفافیت په هدف یوه یا دوې میاشتې وځنډول شي او تر هغې وروسته دې ترسره شي.
دوی وایي، پر ټاکنو د خلکو تللي باور لپاره باید حکومت شفاف انتخابات ترسره کړي، څو د ډیموکراسۍ اصل تمثل شي.
د افغانستان د رڼو ټاکنو د بنسټ غړي حبیب الله شینواري ویلي: «حکومت دې لږ تر لږه یو ټولپوښتنه وکړي او د ټاکنو ټول اړخونه دې وسنجوي، که امکان ولري، ټاکنې دې له یوې تر دوو میاشتو وځنډوي».
له دې سره ایتوا پر شکایتونو کمېسیون غږ کړی، چې د تېرو پارلماني ټاکنو په تړاو شویو شکایتونو ته دې په پوره دقت او بې طرفۍ رسېده‌ګي وکړي.
دوی همدارنګه وایي چې ټاکنیز کمېسیونونه دې د شکایتونو څېړنو سربېره، د ولسي جرګې د پاتې ولایتونو پایلې هم ژر اعلان کړي.
د شفافیت لپاره د ولسمشریزو ټاکنو د ځنډولو وړاندیز داسې مهال کېږي، چې تردې مخکې هم د مدني ټولنې غړو او ډېری افغان سیاسیونو د سولې لپاره د ټاکنو د ځنډولو غوښتنه کړې ده.


### قطر کې تر روانو مذاکراتو وروسته بین الافغاني ناسته کېږي


۵ مخ

### رئیس‌جمهور غنی: اجماعی که اکنون دربارهٔ صلح بوجود آمده هیچ زمانی وجود نداشت



رئیس‌جمهور غنی، می‌گوید که اجماعی که اکنون دربارهٔ صلح بوجود آمده‌است، در هیچ زمانی دیگر وجود نداشت.
او که پیش از چاشت دیروز در مراسمی به مناسبت تجلیل از روز جهانی همبستگی زنان، در ارگ ریاست‌جمهور سخن می‌زد، افزود که افغان‌ها صلح باعزت می‌خواهند.
او بار دیگر تأکید کرد که در روند گفت‌وگوهای صلح باید تمامی طرف‌ها در افغانستان سهیم باشند. به گفته او: «صلح ملی است، قومی، سمتی و حزبی نبوده و صلح از همهٔ افغان‌ها می‌باشد و اگر یک بخشی از افغان‌ها از روند صلح بیرون بماند، آن صلح پایدار نخواهد بود».
آقای غنی در حالی بر شمولیت افغان‌ها بر گفت‌وگوهای صلح تأکید می‌ورزد که ایالات متحده و طالبان در غیبت حکومت سرگرم گفت‌وگو استند. پنجمین دور گفت‌وگوهای ایالات متحده و طالبان که به تاریخ ششم ماه حوت آغاز شد، تاکنون ادامه دارد و نماینده‌گان دوطرف پشت درهای بسته در دوحه دربارهٔ صلح رأی‌زنی می کنند.
با این همه، عبدالله عبدالله، رئیس اجرائیه حکومت وحدت ملی نیز که در مراسم دیروزی در ارگ سخنرانی کرد، گفت که در هرگونه گفت‌وگو باید دستاوردهای مردم افغانستان به ویژه زنان درنظر گرفته شوند.
او به زنان اطمینان داد که دستاوردهای شان در این روند، نادیده گرفته نخواهند شد.
در این مراسم، دلبر نظری، وزیر امور زنان نیز گفت که باید نماینده‌گان زنان در گفت‌وگوهای صلح حضور داشته باشند.



## دريځ

# د سولې په اړه د ولسمشر متضادې او مبهمې خبرې

ولسمشر غني وايي، افغانان ځکه د سولې لپاره ضمانت غواړي چې د سراسري امنيت سبب شي. نوموړی وايي، د سولې نړيوالې تجربې ښودلې چې که دغه بهير په دقت ونه سنجول شي، د امنيت پر ځای د لا ناامنۍ سبب کېږي. ولسمشر غني دغه راز وايي چې د سولې روان بهير تر دې دمه په دقت او تدبير سره پر مخ تللی دی او افغانان ځکه د سولې لپاره ضمانت غواړي، چې د سراسري امنيت سبب شي.

د سولې په تړاو د ولسمشر غني خبرې متضادې، د سولې ضد او له ابهاماتو ډکې دي. ولسمشر غني له يوه اړخه وايي، چې د سولې پروسه ښه روانه ده او په دقت او تدبير سره پر مختللې ده، خو له بله اړخه کله وايي چې ځوک دې را باندې گندمک تړون نه لاسليک کوي، کله وايي چې يو کوچنی اقليت د بندو دروازو تر شا تصميم نه شي نيولی او کله هم په واضح ډول له روانو خبرو ناراضيتوب څرگندوي. له همدې امله د سولې په اړه د هغه خبرې او دريځ ثابت نه، بلکې متضاد دی. اوس يې تازه ويلي چې خبرې ښې روانې دي، خو وايي ضمانت غواړي. اوس پوښتنه دا ده چې که ښې روانې وي، ضمانت ته څه اړتيا ده او که ناسمې روانې وي او د ضمانت اړتيا وي، نو بيا ولې وايي چې خبرې ښې روانې دي؟ دا يو ښکاره تضاد دی. ولسمشر د ضمانت خبرې کوي، خو دومره جرئت نه لري چې ووايي، له چا ضمانت غواړي. خبره روښانه ده چې د سولې روانه پروسه امريکا پر مخ بيايي، نو ولسمشر بيا ولې په واضحو ټکو نه وايي چې له امريکا ضمانت غواړو؟ دغه راز که له امريکا ضمانت غواړو، نو بيا ولسمشر ولې وايي، چې د امريکا پر اراده بايد شک ونه کړو!؟

د ولسمشر ځينې خبرې گونگې هم دي، مخاطب يې معلوم نه دی او يوازې غواړي چې د سولې په اړه عامه ذهنيت خراب کړي. د هغه وروستۍ خبرې او دريځونه د سولې ضد دريځونه دي او په ټول توان هڅه کوي چې د سولې روانې خبرې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي. ولسمشر غني فکر کوي چې د سولې په راتگ سره به يې واک ختم شي او که سوله ونه شي، نو له حکومتي امکاناتو په استفادې سره يو ځل بيا ټاکنې گټلی شي او د پنځو کلونو لپاره به ولسمشر وي. له همدې امله د سولې د خبرو مخالفت کوي او غواړي چې دا هڅې ناکامې شي. البته يوه خبره واضح ده او هغه دا چې ولسمشر له يوه اړخه له عامه ذهنيت څخه وېره لري او له بله اړخه له امريکا وېرېږي، نو ځکه دا مخالفت يې په داسې ټکو دی چې ځان ته پکې د تېښتې لاره پرېږدي. له همدې امله له يوه اړخه د سولې خبرې کوي او له بله اړخه يې خبرې، دريځونه او کارونه د سولې مخالف دي. که د ولسمشر وروستۍ خبرې او دريځونه وکتل شي، له يوه اړخه مبهم دي، له بله اړخه د سولې په اړه متضادې خبرې کوي او له بله اړخه داسې خبرې کوي، چې د سولې په اړه ذهنيت خراب شي او په دې ډول د سولې هڅې شنډې شي. سوله د افغان ولس غوښتنه او اړتيا ده، سوله د دغه هېواد د هر بچي اړتيا ده، د ولسمشر او ملگرو بچيان او کورنۍ به يې سولې ته اړتيا ونه لري، ځکه هغوی په نورو هېوادونو کې امن او خوشاله ژوند لري. ولس دا هر څه درک کوي او چاته به اجازه ورنه کړي چې د سولې پر وړاندې خنډونه جوړ کړي.

## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون: حکومت دې د خونړيو پېښو د څېړنو پايلې له ولس سره شريکې کړي



اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون وايي، حکومت بايد د بېلابېلو پېښو د څېړنو پايلې له خلکو سره شريکې کړي.

دا په داسې حال کې ده چې له هرې خونړۍ پېښې وروسته د پلټنو د کمېسيون ټاکل اوس معمول گرځېدلی، له پېښې وروسته افغان حکومت د څېړنو امر کوي، خو وروستۍ پايلې يې له خلکو سره نه شريکېږي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون له حکومته غواړي چې د ټولو، په ځانگړي ډول د وروستيو خونړيو پېښو حقايق له ولس سره شريک کړي.

د دغه کمېسيون کمېشنر او وياند حمدالله ارباب ازادي راډيو ته ويلي، ولس ته قانون حق ورکړی چې معلوماتو ته لاسرسی ولري.

ارباب زياته کړې: «اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په دې ټينگار کوي چې معلومات بايد د خلکو له تقاضا مخکې له ولس سره شريک شي؛ دا چې څېړنې کېږي او معلومات خلکو سره نه شريکېږي، البته دا يوه نيمگړتيا ده. د قانون په اساس رسنۍ او ولس حق لري چې دوی له اړوندو کمېسيونونو معلومات وغواړي، خو که له دوی سره معلومات نه شريکېږي، نو کولای شي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون ته خپل شکايتونه وسپاري، ترڅو موږ يې پوښتنه وکړو.»

که څه هم په تېره يوه نيمه لسيزه کې په افغانستان کې بېلابېلې خونړۍ پېښې رامنځته شوې او افغان حکومت يې د پلټنې لپاره ځانگړې او باصلاحيته پلاوې وټاکل، خو لا هم د دغو مرگونو پېښو د پلټنې وروستي حقايق له ولس سره نه دي شريک شوي.

د تېر کال په لومړيو کې په بلخ کې پر ۲۰۹ شاهين قول اردو بريد، په کابل کې د زنبق څلور لارې خونړۍ پېښه، د سردار محمدداوود خان پر روغتون او انټرکانټيننټال هوټل بريد، په گردېز کې د پکتيا پر امنيې قومندانۍ بريد، په ميدان وردگو کې د ملي امنيت د ځواکونو پر يو مرکز خونړی بريد، همدا شان د کندوز او غزني سقوط، د کندهار د امنيې قوماندان جنرال رازق وژنه او تازه د هلمند په ښوراب کې پر ۲۱۵ اتل قول اردو بريد او نورې هغه پېښې يادې شوې، چې حکومت يې د پلټنو لپاره پلاوي ټاکلي، خو وروستۍ نتيجې يې له خلکو سره نه دي شريکې شوې.

## خوستيان: د سولې په روانو خبرو کې دې تېرې لاسته راوړنې نه قرباني کېږي



په خوست کې ډېرو پخوانيو مجاهدينو او قومي مشرانو ټينگار کړی، چې د تېرو ۱۸ کلونو پرمختگونه او لاسته راوړنې بايد د کېدونکې احتمالي سولې قرباني نه شي.

دوی که څه هم د سولې روانو هڅو ملاتړ کړی، خو زياته کړې يې ده چې هغه سوله ورته هېڅ ارزښت نه لري، چې د زرگونو وژل شوو افغانانو وينو ته پکې درناوی نه وي.

د غونډې يوه گډونوال ډاکټر گل محمدالدين منگل غونډې ته ويلي، سره له دې چې دوی تر بل هر وخت د کېدونکې احتمالي سولې ته ډېر تږي دي، خو په خبره يې چې د تېرو ۱۸ کلونو پرمختگونه او لاسته راوړنې بايد پر خپل ځای پاتې شي.

نوموړي زياته کړې: «موږ عزتمنه سوله غواړو، پايداره سوله غواړو، داسې سوله چې په هغې کې زموږ ځوان، معلم او هېواد عزتمند وي او سرلوړي وو، د شهيدانو وينې هم وساتو، خپلې قربانۍ هم وساتو او افغانستان نور د نفاق نه وژغورو، نور د ورورولۍ قانون شروع کړو او هغه يتيمان چې موږ ته په ميراث راپاتې دي، د هغوی تعليم او صحت ته توجه وکړو.»

د نوموړي په خبره، که د سولې په روانو مذاکراتو کې پخوانيو مجاهدينو ته ونډه ورکړل شي، نو ژر ده چې دا خبرې به يوې پايلې ته ورسېږي.

هغه همدا ډول پر افغان دولت او وسله والو طالبانو هم غږ کړی، چې په هېواد کې د روانو ناخوالو د پای ته رسېدو لپاره دې نور بې له کوم قيد او شرط څخه سوله وکړي.

غونډې ته د دغه ولايت يوه بل قومي مشر مولوي امين الله امين ويلي، د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې چې له تېرو دوو اونيو راهيسې په دوحه کې پيل شوې، مجاهدينو ته دې پکې ونډه ورکړل شي.

د نوموړي په خبره، که ښکېلې غاړې پخوانيو مجاهدينو ته واک ورکړي، کولی شي په هېواد کې روانې کشالې ته د پای ټکی کېږدي.

هغه زياته کړې: «کوم کسان چې د سولې منځگړيتوب کوي، په هغوی غږ کوم چې د سولې په خبرو کې د مجاهدينو، ديني عالمانو او قومي مشرانو ته ځای ورکړئ، چې په دې پروسه کې رغنده رول ولوبوي، څو هېواد ته تل پاتې سوله راشي».

د خوست دغه پخواني مجاهدين او قومي مشران په داسې حال کې د تېرو ۱۸ کلونو د پرمختگونو او لاسته راوړنو د ساتنې غوښتنه کوي، چې په دوحه کې د امريکا او طالب استازو ترمنځ خبرې ۱۵مې ورځې ته وغځېدې.

## مدني ټولنې او څارونکي: د ټاکنيزو کمېسيونو پرېکړې بايد له هر ډول لاسوهنې خوندي وي



مدني ټولنې او څارونکي د ولسي جرگې د ټاکنو د پايلو روښانتيا او د جمهوري رياست د ټاکنو پر برخليک ټينگار کوي.

د مدني ټولنې مجتمع رييس عزيز رفيعي تېره ورځ په دې اړه انديښنه څرگنده کړې، چې ټاکنې بايد د سولې د خبرو او لاسوهنو په گرو کې نه وي او که چېرې د دغه بهير په ټاکل شوې نېټه کې بدلون راشي، نو ډېرې ستونزې به رامنځته کړي.

نوموړي ويلي: «د انتخاباتي کمېسيونونو پرېکړې بايد خپلواکې او له هر ډول دولتي او سياسي ديده لرې وي. موږ هيله لرو چې دقيق وخت بايد خپل کمېسيون مطرح او انتخابات ترسره شي، د افغان سياستوالو او موږ هر ډول لاسوهنې به په انتخاباتو د خلکو باور خراب او ولسواکي به له منځه يوړل شي.»

خو د ټاکنو د شفافيت د څار موسسې يا ايتوا غړي حبيب الله شينواري ويلي، چې بدلونونو ته په کتو او دا چې ټاکنې يو ځل بيا د بحران پر لور لاړې نه شي، اړينه ده چې د جمهوري رياست د ټاکنو نېټه وځنډول شي.

د کمېسيون خپلواکي، شکايتونو ته رسيده‌گي او د پنځلسو پاتې ولايتونو د ټاکنو د پايلو اعلان هغه سپارښتنې دي، چې د ناظرينو او مدني ټولنو د استازو له خوا مطرح شوې دي.


دا انديښنې داسې مهال مطرح کېږي چې په دې وروستيو کې د ټاکنو د نوي قانون له مخې د ټاکنيزو کمېسيونونو نوي غړي وټاکل شول او د جمهوري رياست د ټاکنو پر مهالوېش مهم بحثونه روان دي.

د ټاکنيزو کمېسيونونو د کمېشنرانو له عزل کېدو وروسته، د ټاکنو خپلواک کمېسيون ويلي وو، چې دغه تغيرات به د جمهوري رياست د ټاکنو پر مهالوېش هم اغېز وکړي.

خو ولسمشرۍ ماڼۍ تازه ويلي، چې دغه تغيرات د جمهوري رياست د ټاکنو پر نېټې اغېز نه لري او حکومت به د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته ټول امکانات برابروي.

د ولسمشرۍ مرستيال وياند شاه حسين مرتضوي له ازادي راډيو سره په خبرو کې ويلي: «هر ځوک چې د حکومت د مداخلې په اړه يو مورد هم ولري، له ناظرو بنسټونو او حکومت سره دې شريک کړي. موږ نه خپله مداخله کوو او نه هم چاته اجازه ورکوو، چې د کمېسيون په کارونو کې مداخله وکړي. د انتخاباتو نېټه مشخصه شوې، تخنيکي مسايل يې د انتخاباتو کمېسيون پورې اړه لري او انتخابات بايد په خپل وخت ترسره شي.»

## پکتيکاوال: گډو ځواکونو د دغه ولايت په برمل ولسوالۍ کې اووه ملکيان وژلي دي



د پکتيکا د برمل ولسوالۍ اوسېدونکي وايي، چې د گډو ځواکونو په عملياتو کې اووه ملکي وگړي وژل شوي، خو امنيتي چارواکو بيا ويلي چې وژل شوي کسان وسله وال طالبان دي.

د برمل ولسوالۍ اوسېدونکي فلک ناز پژواک خبري اژانس ته ويلي، چې وړمه شپه گډو ځواکونو د رخې په کلي کې عمليات کړي دي.

هغه ويلي چې په دغو عملياتو کې د همدغه کلي اووه اوسېدونکي وژل شوي دي.

نوموړي زياته کړې: «دغه اووه کسان يې له کورونو ايستلي دي، بيا يې بېرون په مرميو ويشتلي دي».

د دې ولسوالۍ يو بل اوسېدونکي د نوم نه ښودو په شرط پژواک ته ويلي، چې د کلي اوسېدونکو د وژل شوو کسانو جنازې د اعتراض په موخه د ولسوالۍ د مقام مخې ته وړې دي، څو يې چارواکو ته وښيي چې دا ملکي وگړي دي، نه وسله وال طالبان، خو د پکتيکا امنيتي چارواکو بيا دغه څرگندونې رد کړې دي.

د دغه ولايت امنيه قوماندان مل پاسوال غلام سخي روغ لېوني ويلي، چې په برمل ولسوالۍ کې گډو ځواکونو عمليات کړي، چې د دريو عربانو په گډون يې ۱۵ وسله وال طالبان وژلي دي.

بلخوا وسله والو طالبانو بيا د نوموړي دغه ادعا رد کړې او ويلي يې دي چې وژل شوي ټول ملکي وگړي دي.

د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد ويلي، چې وړمه شپه حکومتي او بهرنيو ځواکونو د برمل ولسوالۍ په رخې سيمه کې عمليات کړي، چې د عامو خلکو څلور کورونه يې ويجاړ کړي او اته ملکي وگړي يې له کورونو ايستلي او وژلي دي.

د يادونې ده چې برمل ولسوالۍ له گاونډي هېواد پاکستان سره اوږده پوله لري او د پکتيکا تر ټولو نا امنه سيمه گڼل کېږي.

# حنیف اتمر: په تېرو پنځو کلونو کې د جگړو له امله ۵۱ زره ملکي افغانان وژل شوي دي



د جگړو او نښتو له امله په تېرو پنځو کلونو کې تر پنځوس زره ډېر افغانان وژل شوي دي. د ولسمشریزو ټاکنو نوماند حنیف اتمر تېره ورځ د مارچ د اتمې په مناسبت په یوه جوړه شوې غونډه کې د ملي یووالي حکومت کمزوری وباله او د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې ارقام یې شریک کړل. د ده په خبره، تېر پنځه کلونه په افغانستان کې د رواني اتلس کلنې جگړې تر ټولو خونړي کلونه وو او زرگونو ملکي افغانانو ته پکې مرگ ژوبله اوښتې ده.

حنیف اتمر وایي، په تېرو پنځو کلونو کې په جگړو او نښتو کې نږدې ۵۱ زره افغانان وژل شوي او ۹۸ زره نور ټپیان شوي دي. نوموړی زیاتوي: «په تېرو پنځو کلونو کې مو ۵۱ زره هېوادوال وژل شوي دي. په تېرو پنځو کلونو کې د ښځو او ماشومانو په گډون زموږ ۹۸ زره هېوادوال د جگړو او نښتو له امله وژل شوي دي». نوموړي دا نه دي ویلي چې دغه ارقام یې پر کوم بنسټ وړاندې کړي دي، خو وایي چې د ملي یووالي حکومت د خلکو په ساتنه، امنیت او سولې راوستو کې ناکام دی او په دې نه دی بریالی شوی، چې د خلکو ژوند خوندي کړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ولسمشر غني ویلي وو چې د نوموړي د حکومت په تېرو څلورو کلونو کې یوازې ۴۵ زره سرتېري وژل شوي وو. د حنیف اتمر په خبره، په تېرو پنځو کلونو کې په افغانستان کې روانه جگړه اوج ته رسېدلې ده او اوسنی حکومت په دې نه دی بریالی شوی چې د حالاتو د کنټرول لپاره موثر گامونه اوچت کړي.

حنیف اتمر په خپلو خبرو کې ویلي، اوسنی حکومت نه یوازې دا چې د ستونزې په حل کې ناکام دی، بلکې پخپله پر یوه ستونزه بدل شوی دی او ورځ په ورځ نورې ستونزې زېږوي. حنیف اتمر دا هم ووېل، چې حکومتي مشران د خلکو سترگو ته خاورې شیندي، دوی تېر باسي او مخکې پرانیستل شوې پروژې بیا بیا پرانیزي. اتمر وایي: «هغه حکومت چې د خلکو سترگو ته خاورې شیندي، پرانیستل شوې پروژې دوه یا درې ځله پرانیزي، داسې حکومت زموږ ستونزې نه شي حل کولی، داسې حکومت د افغانستان اوسني وضعیت ته گټور نه دی.»

د ده په خبره، حکومت د سولې په راوستو کې هم نه دی بریالی شوی او د دې جوگه هم نه شو چې سوله راولي او د عملي پلانونو له مخې په هېواد کې روانې جگړې ته د پای ټکی کېږدي. اتمر وایي چې د سولې په پروسه کې دې ټولو اړخونو ته د پام وړ برخه ورکړل شي او د ټولو خلکو نظریات دې د سولې په خبرو کې شریک کړل شي.

د ولسمشریزو ټاکنو نوماند او د ملي امنیت شورا پخواني سلاکار داسې د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې ارقام وړاندې کړي، چې په دې وروستیو کې په هوایي بریدونو کې د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې شمېره یو ځل بیا لوړه شوې ده. هوایي ځواکونو په دې وروستیو کې، په هلمند، میدان وردگو او ننگرهار کې ډېر هوایي بریدونه کړي چې د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې ادعا پکې شوې ده. رسنیو ته په استول شوو راپورونو کې خلک د بهرنیو ځواکونو له هوایي بریدونو او ځینو خپلسرو عملیاتو سر ټکوي، خو حکومت په ډېرو مواردو کې تر دې دمه د خلکو غوښتنو ته ځواب نه دی ویلی.

وړمه شپه هم د پکتیکا په برمل ولسوالۍ کې عملیات شوي او ځایي خلک وایي، چې په هوایي بریدونو کې اووه ملکي وگړي وژل شوي، خو حکومتي چارواکي وایي چې په عملیاتو کې یوازې طالبانو ته تلفات اوښتي دي. تېره ورځ بیا په میدان وردگو کې د سید اباد ولسوالۍ اوسېدونکو لاریون کړی و او په خبره یې، په دې وروستیو کې په دغه ولایت کې د بهرنیو او افغان ځواکونو په هوایي او ځمکنیو عملیاتو کې د ملکي وگړو مرگ ژوبله لوړه شوې ده. لاریون کوونکو ویل، چې دوې شپې وړاندې په یوه هوایي برید کې اووه ملکي وگړي وژل شوي، چې ښځې او ماشومان په کې شامل دي. د دوی په خبره، تر هغه به خپل اعتراض ته دوام ورکړي، چې حکومت یې غږ واوري او د ستونزې د دایمي حل زمینه ورسره وکړي.

## خبریالان: ولسمشر یوازې د کندهار په هوایي ډگر کې له ځینو کسانو سره لیدلي دي



ولسمشر غني فراه ته تر سفر وروسته د شنبې په ماښام کندهار ته ورسېد، خو د کندهار په هوایي ډگر کې یې یوازې له محدود شمېر کسانو سره کتلي دي.

کندهار ته د ولسمشر غني د سفر په تړاو ویل کېږي، تمه کېده چې ولسمشر د کندهار له قومي مشرانو سره وگوري او د خبریالانو په حضور کې یوې غونډې ته وینا وکړي، خو ولسمشر په هوایي ډگر کې د قول اردو له ځینو سرتېرو او سېلاب ځپلو کورنیو سره کتلي او بېرته کابل ته راستون شوی دی.

ولسمشرۍ ماڼۍ په یوه خبرپاڼه کې له قومي مشرانو سره د ولسمشر غني د لیدنې په تړاو څه نه دي ویلي، خو زیاته کړې یې ده چې ولسمشر د قول اردو له ځینو سرتېرو او سېلاب ځپلو کورنیو سره کتلي دي.

ولسمشر د کندهار د سېلاب ځپلو لپاره د سلو میلیونو افغانیو بېړنۍ مرستې اعلان کړې، چې ۳۰ میلیونه به یې د کرنې په بیارغونې ولگول شي.

ولسمشر غني چې په کونړ کې د افغانستان د تاریخي څېرو په تړاو د وروستیو څرگندونو له امله تر نیوکو لاندې دی، په کندهار کې ویلي چې د لوی احمد شاه بابا عزت پر هر افغان واجب دی او په کندهار کې د هغه د کور د استملاک چارې بشپړې شوې، چې رغولو به یې د افغانستان د ملي ټاټوبي په توگه ونمانځل شي.

د ولسمشر غني په اړه ویل کېږي، چې ولایتونو ته د سفرونو پرمهال له اعتراضونو او ولسي غبرگونونو د ځان ژغورنې په خاطر یوازې له مشخصو او وار دمخه انتخاب شویو کسانو سره گوري.

په کندهار کې له قومي مخورو سره د ولسمشر غني د نه لیدنې په تړاو څرگندونې داسې مهال دي، چې له دې وړاندې ننگرهار، کونړ او ځینو نورو ولایتونو ته د نوموړي پر سفرونو له دې امله نیوکې شوې دي، چې له عامه خلکو سره له مخامخ کېدو ډډه کوي.

## راپورونه: پاکستاني ځواکونو پر لعلپورې ولسوالۍ توغوندي توغولي دي



پاکستاني ځواکونو یو ځل بیا د ننگرهار پر لعلپورې او گوشتې ولسوالیو توغوندي را توغولي دي.

د دې ولسوالۍ اوسېدونکو ویلي چې له کلونو کلونو راهیسې د پاکستاني پوځیانو له لوري د ډیورنډ کرښې له هغې غاړې پر لعلپورې او گوشتې ولسوالۍ راکټي بریدونه کېږي، چې له کبله یې زرگونو کورنیو خپل کورونه پرېښي دي. د ځایي اوسېدونکو په خبره، د دغو بریدونو له کبله ډېرو کورنیو خپلې کډې بار کړې او له لعلپورې ولسوالۍ څخه په وتو دي.

دوی ویلي، د یادې ولسوالۍ د رینا او پرچاو په گډون، پر بېلابېلو کلیو پاکستاني پوځیان توغوندي توغوي، چې له کبله یې یوازې په دغه ولسوالۍ کې شاوخوا څلورو زرو کورنیو خپل کورونه پرېښي دي.

د یادې ولسوالۍ بې ځایه شوي کس، نظر جان ویلي: «د پاکستان لخوا په موږ رش راغلو او راته یې ووېل چې ځانونه له سیمې وباسئ او ویل یې چې دا سیمه موږ نیولې ده. بس درې څلور زره کورنۍ وو چې له سیمې ووتو او کډې مو رابار کړې».

د دې ولسوالۍ یوه بل بې ځایه شوي اوسېدونکي دوست محمد مومند ویلي: «پاکستاني ځواکونه اوس هم توغوندي راولي، د خلکو کورنه یې هوار کړي دي، بس د اوسېدو ځای نشته. هره ورځ یې مرمۍ شروع کړې وي او ولي یې.» د یادې ولسوالۍ ولسوال هم مني چې وخت ناوخت پاکستاني پوځیان پر دې ولسوالۍ توغوندي راتوغوي، چې دا چاره یې د نړیوالو اصولو خلاف عمل دی او په ښکاره پر افغان خاوره تېری دی.

د لعلپورې ولسوال نعمت الله نورزي زیاته کړې: «دا خو ښکاره خبره ده چې دا د ولسونو په وړاندې ښکاره تجاوز دی. دا د نړیوالو قوانینو تر پښو لاندې کول دي او پاکستان مخکې هم زموږ په خاوره باندې تجاوز کړی دی او اوس یې هم کوي». دا په داسې حال کې ده چې د لعلپورې ولسوالۍ ترخنگ، پاکستاني پوځیانو د ننگرهار د گوشتې ولسوالۍ په گډون، د کونړ پر ځینو ولسوالیو هم له تېرو کلونو راهیسې راکټي بریدونه کوي، چې د خلکو او حکومت له اعتراض سره سره یې لاهم مخه نه ده نیول شوې.

## روحاني: پاکستان دې په خپله خاوره کې د ترهگرو ډلو پر وړاندې جدي گامونه پورته کړي



ایراني چارواکو یو ځل بیا له پاکستانه غوښتي چې ژر تر ژره د هغې تروریستي ډلې پر ضد جدي گامونه پورته کړي، چې د بلوچستان په سیستان کې یې د ایران په سپاه پاسداران ځانمرگی برید کړی دی.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د ایران ولسمشر حسن روحاني ویلي، که پاکستان په دې اړه اقدامات ونه کړي، نو د دواړو هېوادونو اړیکې به خرابې شي.

ایراني رسنۍ اېرنا هم ویلي چې روحاني په دې اړه د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره په ټیلیفوني خبرو کې ویلي، چې ایران د ترهگرو پر وړاندې د پاکستان د جدي گامونو د پورته کولو په تمه دی.

هغه ویلي: «موږ باید اجازه ورنه کړو چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د لسیزو راهیسې اړیکې د دغو وړو ترهگرو ډلو د کړنو له امله اغېزمنې شي، د کومو د مالي امکاناتو په اړه چې موږ تاسو دواړه پوهېږو».

د اېرنا خبري اژانس د راپور له مخې، د پاکستان لومړي وزیر عمران خان هم ویلي، چې پاکستاني ځواکونه د برید کوونکو پټنځایونو ته نږدې شوي او د ایران لپاره به ډېر ژر یو ښه خبر ولري.

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې فبرورۍ پر۱۳مه، یو ځانمرگي برید د ایران د بلوچستان په سیستان کې د دغه هېواد د انقلابي گارد ۲۷ غړي ووژل او د دغه برید مسوولیت د جیش العدل په نوم وسله والې ډلې واخیست.

تر دې مخکې د ایران د استازو د مجلس رییس ویلي وو، چې پر سپاه پاسداران ترهگریز برید دننه په پاکستان کې طرحه او رهبري شوی و.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ایران د سپاه پاسداران قوماندان محمد علي جعفري هم د فبرورۍ په ۱٦مه ویلي وو، چې له ترهگرو ډلو ملاتړ به پاکستان ته ډېر گران تمام شي.

ایراني چارواکو همدارنگه ویلي وو، چې که پاکستان پر گډه پوله د ترهگرو پر ضد عملیات ونه کړي، دوی به خپله لاس پکار شي. د رویټرز خبري اژانس په حواله، جیش العدل په سیمه کې د اقلیت بلوچانو د حق د زیاتېدو او د هغوی د ژوند د شرایطو د ښه کېدو لپاره مبارزه کوي.

د یادونې ده چې ایران تر دې وړاندې هم د پاکستان له خاورې پر خپلو سرحدي سیمو د بریدونو له امله شکایت کړی دی.

## د کتـاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

ليکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
ژباړن: میراحمد یـاد

### شپږم څپرکی
### ځان چې څه گڼې، هماغه یې




موږ ټولو لیدلي چې بچي څومره زر د مور و پلار خویونه، فکرونه، وېرې او ذوقونه خپلوي. لېوالتیاوې که دیني وي، سیاسي وي، که د خوراک او حرکت اړوند وي یا که د نورو چلندونو اړوند وي، خو دا ټولې د تقلید پر اساس وي او له دې امله یې د مور و پلار یا مشرانو د ذهنیت مستقیمه هنداره بللای شو.

مشران همداسې وي. خلک له نورو تقلید کړي عادتونه ټول عمر ساتي. دوی له خپلو مشرانو او رهبرانو تقلید کوي او عموماً د هغوی له کارونو اغېزمنېږي.

دا خبره ډېره اسانه امتحانېږي، خپل یو ملگری وټاکئ او له خپل مشر یا کشر سره یې پرتله کړئ او هغوی ته ورته فکرونه او چلندونه یې وگورئ.

په لاندې ځینو مواردو کې ښایي ستاسو ملگری له خپل مشر یا همکار نه تقلید وکړي:

- خبرې او کلیمې ټاکل
- د سگرټ څکولو بڼه
- د څېرې ځینې حرکتونه
- د جامې بڼه
- د موټر بڼه او موډل

د تقلید د الگو ارزونې بله لاره دا ده چې د کارکوونکو خویونه له رئیس سره پرتله شي. رئیس چې غوسه او نارامه وي، نو ترې چاپېر خلک هم ورته غبرگون ښیي، خو که رئیس خوښ او ارام وي، نو کارکوونکي به یې هم خوښ او ارام وي.

مهم ټکی دا دی چې: موږ چې د خپل کار په اړه کوم ذهنیت لرو، زموږ تر لاس لاندې خلک به هم د کار په اړه هماغه ذهنیت پیدا کوي.

د خپل کار په اړه زموږ د مامورینو یا تر لاس لاندې خلکو ذهنیت، د کار په اړه زموږ د ذهنیت فیډبیک یا غبرگون دی. په دې باید پوه شو، څوک چې له موږ نه معاش اخلي، زموږ ضعفونه او قوتونه یې په چلندونو کې ښکاري، دا عیناً هغه ماشوم ته ورته وي، لکه د مور و پلار خویونه یې چې په چلند کې ښکاري. د بریالیو خلکو یوازې یوه ځانگړنه (شوق) درواخلئ. تراوسه کوم پلورونکي په پوره شوق د کوم توکي پېرلو ته بللي یاست؟ کوم ملا یا ویناوال مو لیدلی چې په شوق وینا کوي او خپل مخاطبین یې ځان ته ورمات کړي وي؟ خو شوق په ځان کې څنگه پیدا کوو؟ لومړی پړاو اسانه دی: د هر څه په اړه ښه په شوق فکر کوئ. خپله به درکې د خوشبینۍ او پرمختگ شوق پیدا شي، دا احساس به درکې پیدا شي چې: (زه خو د همدې کار لپاره پیدا شوی یم.)

تاسې د خپل فکر تولید یئ. پر مسایلو ښه په شوق فکر کوئ، چې شور، شوق او جذبه درکې پیدا شي. که غواړئ کار مو ښه شي، له خپل کار سره مینه وکړئ. په دې صورت کې ستاسې شوق نورو خلکو ته هم انتقالېږي او کار مو ښه کېږي، خو که اپوټه کار وکړئ او په لگښتونو، پیسو، مالونو او وخت کې شرکت سره لټې او ټگي وکړئ، نو له خپلو مامورینو او لاس لاندې خلکو به د څه غبرگون تمه لرئ؟ که تاسې د خپل عادت له مخې کار ته په ځنډ لاړ شئ او زر بېرته راشئ، نو څه فکر کوئ چې نور خلک به څه کوي؟

په موږ کې قوي انگېزه د کار په اړه زموږ ذهن مثبتوي او په دې توگه زموږ ترلاس لاندې خلک هم د کار په اړه ښه ذهنیت پیدا کوي. زموږ مشران چې موږ ارزوي دا زموږ د کشرانو د کمي او کیفي فعالیتونو پر اساس وي. ښه دا وگورئ: تاسې به څوک د خرڅلاو مدیر ټاکئ؟ د خرڅلاو د داسې څانگې مسئول چې کارکوونکي یې ډېر ښه کار کوي، که د داسې څانگې مسئول چې کارکوونکي یې چندانې کار نه کوي؟

او څوک به د تولید د مدیر په توگه ټاکئ؟ هغه سرکاریگر چې کاري ډلې یې خپل ټاکلی تولید پوره کړی وي، که هغه سرکاریگر چې کاري ډله یې له خپل ټاکلي تولیده وروسته پاتې وي؟

په دوو لارو نور خلک لا ډېر کار ته هڅولای شو:

۱. تل مو خپل کار ته په مثبته سترگه گورئ، ترلاس لاندې کارکوونکي به هم ترې مثبت فکر واخلي.

۲. هره ورځ چې کار پیلوئ، له ځانه دا پوښتنه کوئ چې: آیا زه دا وړتیا لرم چې د نورو خلکو لپاره بېلگه او الگو شم؟ آیا زما ټول خویونه داسې دي چې زه یې ترلاس لاندې خلکو کې لیدل غواړم؟

**هره ورځ ځان څو ځله وهڅوئ**

څو اونۍ مخکې راته د موټرو یوه پلورونکي د خرڅلاو د یوه تخنیک خبره وکړه، دا تخنیک یې خپل نوښت و، لوست به یې بې گټې نه وي:

(زما وظیفه هره ورځ دوه ساعته دا وي چې خپلو پېرودونکو ته زنگونه ووهم او په نندارتون کې د کتلو نېټه ورسره کېږدم. درې کاله مخکې چې د موټرو د خرڅلاو کاروبار ته راغلم، دا ټلیفوني کار راته ډېر سخت و. زه لږ بې زړه وم او پوهېدم چې دا بې زړه توب مې په خبرو کې هم له ورایه ښکاري. ما به چې له چا سره اړیکه ونیوه، ډېر زر به یې دا هسې بې خونده کار وباله، هېڅ علاقه به یې نه ښوده او اړیکه به یې پرې کړه.

هغه وخت به د هرې دوشنبې په سهار زموږ مدیر د خرڅلاو یوه جلسه جوړوله. دا جلسه تقریباً ښه او اغېزناکه وه. ماته به یې د ارامتیا احساس راکاوه او د دوشنبې په ورځ به مې چې له کومو پېرودونکو سره د لیدو نېټې کېښودې، هغه به گټورې وې، خو ستونزه دا وه چې ما ویل د دوشنبې د ورځې دا شوق باید د اونۍ نورو ورځو ته هم وغځوم. **دوام لري...**

# ناورو

حشمت الله نوري

ناورو د ارام سمندر په لوېدیځه برخه کې د استوا د کرښې جنوب ته د سولومان د ټاپوگانو شمال او د کریباتي د ټاپوگانو لوېدیځ لور ته، د ختیځ طول البلدونو د ۱۵۵ او ۱۶۶ درجو او جنوبي عرض البلدونو د ۳۲ درجو ترمنځ موقعیت لري.

د دغه هېواد پراخوالی اته کیلومتره مربع دی، چې د نړۍ ۲۳۹م لوی هېواد بلل کېږي.

ناورو شمال ته د کارولین له ټاپوگانو، جنوب ته د سولومان له ټاپوگانو، ختیځ ته د کریباتي له ټاپوگانو او لوېدیځ ته له پاپوانیو گیني سره گډه پوله لري.

دغه هېواد د استوا کرښې ته د نږدېوالي له امله توده او د ارام سمندر له اوبو سره د گاونډیتوب له امله لنده سمندري هوا لري او ډېر اورښت په کې کېږي.

د ناورو د استوگنې وړ ټاپوگانو خاوره کلکه او د ډېرو کرلو وړ نه ده. په شمال کې د ناورو په ساحلي سیمو کې شپږ کیلومتره کلکه خاوره د کرلو وړ ده، چې پلنوالی یې ۳۰۰ مترو ته رسېږي. په دې سربېره، په دغه هېواد کې رواني اوبه لږ دي. د دغه هېواد خاوره هواره ده، غرونه نه لري او ۷۸ سلنه سیمه یې د فاسفیټو ډېرو بډایو کانونو نیولې ده. په ناورو کې ځنگلونه لږ دي او په منځنۍ برخه کې یې د بواد په نامه ولاړې اوبه د یادولو وړ دي.

په عمومي توگه د سمندر له سطحې څخه د ناورو تر ټولو ټیټه سیمه، د ارام سمندر له سطحې سره برابره او ډېره جگه سیمه یې، یو بې نومه ځای دی چې ۶۰ متره لوړوالی لري.

د دغه هېواد پلازمېنه د یارن ښار دی او نفوس یې ټول ټال ۱۲ زرو کسانو ته رسېږي. د دغه هېواد ټول وگړي په ښارونو کې ژوند کوي. د کلیوالو سیمو په نوم کوم د اوسېدو ځای نه لري. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې د څلورو ماشومانو د درلودو حق لري.

د ناورو رسمي ژبه ناوروي او انگلیسي ده او لیکدود یې لاتیني دی. اداري وېش له پلوه دغه هېواد په ۱۴ ولسوالیو وېشل کېږي.

د دغه هېواد د حکومت ډول جمهوري دی. د ناورو د ولسي جرگې قوانین او انگلیسي قوانین په دغه هېواد کې نافذ دي. اوسنی ولسمشر یې بارون واکا دی، چې د لومړي وزارت دنده هم پرمخ بیایي. په دغه هېواد کې ولسمشر د ولسي جرگې له خوا د دریو کلونو لپاره ټاکل کېږي. د ناورو د کابینې وزیران د دغه هېواد د ولسي جرگې له غړو څخه د ولسمشر لخوا ټاکل کېږي.

د ناورو ولسي جرگه ۱۸ غړي لري چې د خلکو په خوښه د دریو کلونو لپاره کار کولای شي. په دغه هېواد کې سرته محکمه تر ټولو لوړ قضایي ارگان دی. د ناورو هره ولسوالي یوه سیمه ییزه او یوه د کورنیو ستونزو د حل محکمه لري، چې په هره یوه کې دوه قاضیان کار کوي.

د دغه هېواد قاضي القضات د اسټرالیا د ملبورن په ښار کې استوگن دی او هر کال څو ځلې د خپلو چارو د سرته رسولو لپاره ناورو ته سفر کوي. د ناورو محکمې د دغه هېواد د ولسي جرگې د پرېکړې او انگلیسي قوانینو په رڼا کې کار کوي.

ناورو د ۱۹٦۸ ز کال د جنورۍ په ۳۱مه د ملگرو ملتونو په مشرۍ، له اسټرالیا، نویزیلنډ او انگلستان له قیمومیت څخه خپلواکي واخیسته او هر کال د جنورۍ ۳۱مه د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.

د دغه کوچنې ډېرین هېواد عواید د فاسفیټو له خرڅلاو څخه لاس ته راځي، خو داسې اټکل کېږي چې د دغه هېواد د فاسفیټو کوچنۍ زېرمې به څلور کاله وروسته پای ته ورسېږي. د ناورو د فاسفیټو د ایستنې کلنۍ اندازه له ۱۹۸۹ ز کال څخه راپدېخوا د دغه مادې په عنعنوي مارکېټونو کې د بیې د راپرېوتو له امله کمه شوې ده. له بلې خوا د هېواد د پاتې ژورو فاسفیټو د ایستنې لگښتونه هومره لوړ شوي، چې په نړیوالو مارکېټونو کې ډېره سیالي نه شي کولای. د فاسفیټو عوایدو یو وخت دغه هېواد ته دومره گټه راوړه، چې د ناورو خلکو د سړي سرکلني عاید کچه یې ډېره لوړه کړه. د پاتې منابعو په مرسته ناورو ته ډېر څه ان د څښلو پاکې اوبه له اسټرالیا څخه راوړل کېږي. له فاسفیټو څخه د خالي شوو ځمکو بیا جوړول او د فاسفیټو د عوایدو پر ځای د نورو چینو موندنه، هغه دوې لویې ستونزې دي چې د ناورو کوچنی اقتصاد له ډېر وخت راهیسې ورسره لاس او گرېوان دی.

د ناورو دولت د خپلو فاسفیټو د زېرمو د ژر خلاصون په پار، د فاسفیټو ډېر عواید په داسې لارو لگوي یا زېرمه کړي، چې په راتلونکې کې د دغه هېواد له اقتصادي ودې سره مرسته وکړي او د هېواد لپاره د عوایدو نورې چینې جوړې کړي. تر ۱۹۹۳ ز کال پورې د ناورو دولت یو بلیون اسټرالیایي ډالر په بهرنیو بانکونو کې ساتلي وو، خو وروسته یې ډېرې پیسې له دغو زېرمو څخه د خپلو مالي کسراتو د پوره کولو لپاره پور کړې.

په دې وروستیو کې د ناورو دولت ډېر بهرني بانکونه او شرکتونه په خپل هېواد کې راجستر کړي او په دې توگه یې د دوی حسابونو ته د لسگونو بلیونو ډالرو د راکړې ورکړې لاره پرانیستې ده. په ۲۰۰۵ ز کال کې د اسټرالیا یوه شرکت له ناورو سره د فاسفیټو د ژورو کانونو د پاتې موادو د ایستلو تړون لاسلیک کړ. د ناورو دولت ځینې شمېرنې څرگندوي، چې د دغه هېواد د خلکو د سړي سرکلني عاید په جوړښت کې توپیر راغلی او د فاسفیټو د عوایدو ترڅنگ، نورو عایداتي اقلامو هم پکې ونډه اخیستې ده.

ناورو خپل ډېر د اړتیا وړ شیان له اسټرالیا څخه راوړي. دغه هېواد پخوا د اسټرالیا په ولکه کې و او اوس اوس اسټرالیا له دغه هېواد سره ډېره مرسته او ملاتړ یې کوي. خو په دې وروستیو کې د ناورو دولت او خصوصي سکټور ډېر کوښښ کوي، چې له اقتصادي پلوه په خپلو داخلي منابعو او له نورو هېوادونو سره د ښو اړیکو د برابرولو په وسیله، له اقتصادي پلوه باثباته شي.

د ناورو ډېر خلک په کانونو، اداري چارو، ښوونې او روزنې او ترانسپورټ کې پر کار بوخت دي.

د فاسفیټو ایستل، تمویلي خدمتونه او د ناریالو د زېړیو پروسس د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.

د ناورو ځمکه د کرلو وړنه ده، ۹۹ سلنه خاوره یې د فاسفیټو کانونو، له فاسفیټو څخه خالي شوو ژورو ځایونو او ښارونو یا د استوگنې سیمو نیولې ده. دغه هېواد په دې وروستیو کلونو کې یو څو نمونوي پټي جوړ کړي، چې ناریال، کیلې، ستروس او گلان پرې کرل کېږي.

د سمندري خوړو او د فاسفیټو د زېرمو د درلودلو له امله، د ناورو خلکو او حکومت په تېرو کلونو کې د دغه هېواد پراخه سمندري سیمې او د کبانو ښکار ته دوام ورکړی او د ناورو د سمندري خوړو سهامي شرکت جوړ شوی، چې ورو ورو کار کوي او خپل کبان امریکا ته صادروي. اوس اوس چې په دغه هېواد کې د فاسفیټو زېرمې د خلاصون په حال کې دي، د ناورو دولت خپل خلک هڅوي چې نورو کارونو ته مخ کړي او ځان ته د عوایدو قانوني او عملي لارې پیدا کړي.



ناورو ته د ډېرو طبیعي ښکلاوو، پرمختللو او عصري هوایي کرښو او ښایسته هوټلونو د درلودلو سره سره، ډېر سیلانیان نه ورځي. هغه جاپانیان چې د دې سیمې نورو ټاپوگانو ته سفر کوي، د لنډې مودې لپاره په دغه هېواد کې پاتې کېږي. د ناورو له الوتکو څخه ډېر هغه بهرني کارگران کار اخلي، چې په دغه ټاپو کې کار کوي.

اسټرالیا، نویزیلنډ، انگلستان، جاپان او چین د دغه هېواد لوی سوداگریز شریکان دي.

د ناورو د ټلیفون کود ۰۰٦۷۴ او د انټرنټ کود یې ان ار دی، چې ټول ټال یې ۱۰۰۰ کسان ورته لاسرسی لري.

ناورو یو دولتي ټلوېزیون لري، چې مرکز یې په نویزیلنډ کې دی او اوس اوس خصوصي سکټور هم په کې پر فعالیت پیل کړی دی.

د ناورو له ۱۵ کلونو څخه پورته سل سلنه خلک نر او ښځې دواړه په لیک او لوست پوهېږي. په دغه هېواد کې زده کړه له ٦-۱٦ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.

داسې ښکاري چې ډېر پخوا څوک په ناورو کې نه اوسېدل، خو په څو تېرو پېړیو کې ورو ورو د میکرونیزي، پولینیزي او ملانیزي د نژاد څو ډلې له شمال او جنوب څخه، دغو ټاپوگانو ته کوچېدلې او هلته استوگنې شوې دي. په ۱۷۹۸ ز کال کې انگلیسي کپتان جان فیرین د لومړني اروپایي په توگه، دغو ټاپوگانو ته ورسېد. جان فیرین پر دغو نوو پېژندل شوو ټاپوگانو د (نم) نوم کېښود، چې سل کاله په همدغه نوم یادېدل. په ۱۸۳۰ ز کال کې د نهنگانو ځینې ښکاریان او یوه ډله سمندري غله په ناورو کې مېشت شول، دغو خلکو پر دغو ټاپوگانو د ناورو نوم کېښود. دوی به له تېرېدونکو بېړیو سره سوداگري کوله، له همدغو خلکو څخه وروسته، هغه دوولس قومي ډلې جوړې شوې چې د دغو ټاپوگانو په سیاسي ژوند کې یې ډېرې ستونزې وزېږولې.

په ۱۹٦٦ ز کال کې امردو روبرت د ملگرو ملتونو په کلنۍ غونډه کې برخه واخیسته او د خپل هېواد د خپلواکۍ غږ یې د نړیوالو غوږونو ته ورساوه. یو کال وروسته روبرت د ارام سمندر د ټاپوگانو له انگلیسي شرکت سره داسې یو تړون لاسلیک کړ، چې د هغه له مخې دغه شرکت د هر ټن فاسفیټو لپاره ۱۱ ډالره د ناورو سیمه ییزه حکومت ته ورکول او د همدغه کال په پای کې د ناورو خلکو د ټاپو د فاسفیټو کانونه ملي او د خپلواکۍ هڅې یې گړندۍ کړې. په ۱۹٦۸ ز کال کې د ناورو خپلواکي ومنل شوه او امردو روبرت د دغه هېواد د لومړني ولسمشر په توگه وټاکل شو.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د ناورو نوم نشته او داسې ښکاري چې دغه دواړه هېوادونه خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري. د کابل او یارن ښارونو ترمنځ د وخت توپیر ۷:۳۰ او د هوا له لارې واټن بیا ۱۰۸۸۳ کیلومترو ته رسېږي.

همیانۍ

# یو ځای څه ډول د یونسکو په نړیوال میراث بدلیږي؟

حمیدالله حمیدي

تر اوسه پورې تر زرو ډېر کلتوري او طبیعي اثار د یونسکو د نړیوال میراث په نوم ثبت شوي دي. د یونسکو په نوملړ کې شاملېدل یو ځای ته ډېر ارزښت او درجه ورکوي. دا کار د دې سبب ګرځي چې د نړۍ له مختلفو برخو څخه ډېر سیلانیان د دغه ځای لیدلو ته ورځي او په دې توګه د دغه هېواد په عایداتو کې زیاتوالی راځي.

په دې کې لرغوني سیمې، کلیساوې، ملي پارکونه، د راک نقاشۍ، مقبرې، کلاګانې، د تاریخي ښارونو مرکزونه او د انګورو تاریخي باغونه شاملېږي، خو دغه ځایونه څنګه د یونسکو نړیوال سازمان له خوا د نړیوال میراث په نوملړ کې شاملېږي؟

یوازې هغه سیمې یا ځایونه کولی شي د یونسکو د نړیوال میراث په نوملړ کې شامل شي، چې نړیوال ارزښت او ځانګړتیا ولري. د بېلګې په توګه، یوه طبیعي یا کلتوري ممتازه سیمه چې تاریخي ارزښت ولري او لاسوهنه پکې نه وي شوې، کېدای شي چې د یونسکو پر شرایطو برابر اوسي.

د دغو اساسي معیارونو یوه بله برخه یو ضمیمه یې نوملړ دی چې لس معیارونه لري. د بېلګې په توګه، یو ځای باید د انسان د لاس خلاقیت وي او یا هم یو فرهنګي میراث وي.

د بامیانو بوتان او په غور کې د جام منار هم په افغانستان کې د یونسکو سازمان له نړیوالو میراثونو څخه شمېرل کېږي. د بامیانو د بوتانو او بند امیر لیدو ته هر کال ډېر بهرنیان راځي، چې دغه څه د عوایدو ښه سرچینه هم بلل کېږي. دا چې د افغانستان امنیت ښه نه دی او بهرنیان زړه نه ښه کوي چې په افغانستان کې له دغو تاریخي اثارو څخه لیدنه وکړي، خو که امنیتي وضعیت لږ ښه شي، افغانستان ډېر داسې ځایونه لري، چې خلک ترې لیدنه وکړي.



یونسکو سازمان په پام کې لري چې لږ تر لږه د افغانستان څلور نورې لرغونې سیمې د دغه سازمان د نړیوالو لرغونو او کلتوري میراثونو په نوملړ کې شاملې کړي. دغه ساحې، په بامیانو کې بند امیر، په کابل کې د بابر باغ او د بلخ او هرات ښارونه دي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت وايي، هڅه کوي چې د نړیوالو میراثونو په نوملړ کې د هرات د شمولیت لپاره زمینه برابره کړي. دغه وزارت وايي، د یونسکو په فهرست کې د لرغوني ښار په توګه د هرات د ثبتولو په خاطر یې هڅې پیل کړې دي. اطلاعاتو او کلتور وزارت باید د هرات ښار ته د هغه د لرغونو اثارو په خاطر زیاته پاملرنه وکړي. دغه وزارت باید د هرات لرغونو اثارو ته چې د ویجاړېدو په حال کې دي؛ جدي پاملرنه وکړي او لازمه ده چې دغه ولایت ته زیاته بودجه په پام کې ونیسي. هرات د کابو اته سوه تاریخي ابداتو په لرلو سره، د هېواد یو لرغونی او تاریخي ولایت دی او له څو کلونو را پدېخوا د نړیوالو میراثونو په لېست کې د شاملېدو نوماند دی. په خپل سر د جوړونو مخنیوي، د تاریخي څلو د اصالت ساتنې ته په پاملرنې، د یونسکو د معیارونو په ګډون د دغو څلو د تاریخي لرغونتیا په پام کې نیولو سره د تاریخي ابداتو بیا جوړولو ته پاملرنه د نړیوالو میراثونو په لېست کې د هرات د شمولیت په خاطر دي.

دا په داسې حال کې ده چې د هرات فرهنګي مسوولین د تاریخي څلو د بیاجوړولو، ساتنې او څارنې په خاطر د بودجې او امکاناتو د نشتوالي له پلوه اندېښنه لري. د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ رییس وايي، چې په دغه ولایت کې د شته تاریخي څلو ساتنه او څارنه کافي بودجې او امکاناتو ته اړتیا لري. دی وايي، همدا اوس په هرات کې څه د پاسه ۸۰۰ تاریخي څلي او ابدات شته چې ځینې یې د ویجاړېدو له ګواښ سره مخ دي. د دغه ولایت زیاتره لرغوني اثار د هرات د تیموریانو په دورې پورې اړه لري. دغه اثار ۴۰۰ کاله کېږي چې پر ځای پاتې دي، خو داسې برېښي چې اوس یې زیاتره د نړېدو او د له منځه تلو ګواښ سره مخ دي. په دې وروستیو کې په ایران کې د میبد ښار د (آبي ژرندو په نوم) په یونسکو کې ثبت شو. د میبد ښار د خپل تاریخي قدامت له کبله د ایران په یزد ولایت کې ډېر د ارزښت وړ دی او یوازینی ښار دی چې ډېرې آبي ژرندې پکې شته. دغه آبي ژرندې د دې لامل شوې چې ډېر سیلانیان یې هر کال لیدو ته ورشي. که څه هم چې له دغو ژرندو څخه اوس د پخوا په څېر ګټه نه اخیستل کېږي، خو بیا یې هم خپل لرغونتوب او جذابیت ساتلی دی.

د میبد کوچنی تاریخي ښار لږ تر لږه ۲۲ آبي ژرندې لري، نو له همدې کبله د ژرندو پر کلي یا ښار باندې مشهور دی. داسې ویل کېږي چې له دغو ژرندو څخه چې ډېرې پخوا جوړې شوې وي، ځینې یې له سره رغول شوې دي او ځینې نورې بیا هماغسې تر خاورو لاندې پرتې دي. په یونسکو کې د دغه ښار د ثبتېدو خبره هغه وخت را پورته او ګرمه شوه، چې له دغو ژرندو څخه ځینې یې له سره ورغول شوې.

# قطر کې تر روانو مذاکراتو وروسته بین الافغاني ناسته کېږي

په مسکو کې د افغان سیاسیونو او طالب استازو ترمنځ د بین الافغاني خبرو دویمه ناسته به په قطر کې ترسره شي.

طالبانو ته نږدې کسان او د مسکو ناستې ګډونوال وايي، چې په دوحه کې د زلمي خلیلزاد په مشرۍ د امریکایي هیئت او طالب استازو ترمنځ د روانو مذاکراتو له پای ته رسېدو سره هممهاله به په دغه هېواد کې د افغان سیاسیونو او طالب استازو ترمنځ ناسته وشي.

دوی وايي چې د دوحې غونډې د پلاوي په ترکیب کې به تر ډېره د مسکو ناستې ګډونوال وي.

د مسکو غونډې ګډونوال جلال الدین شینواري ویلي: «د مسکو د غونډې فیصله همداسې وه چې دغه حاضر مجلس چې په مسکو کې و، دوی به د قطر په مذاکراتو کې هم حضور لري او احتمال شته چې نور اړخونه هم پکې ګډون ولري».



د مسکو ناستې ګډونوال وايي، چې د دوحې په بین الافغاني مذاکراتو کې به پر نویو مسایلو هم خبرې کېږي.

طالبانو ته نږدې کسان وايي، چې په قطر کې د افغان سیاسیونو او طالب استازو ترمنځ په داخل مذاکراتو کې به ډېر تمرکز له حکومت سره پر بین الافغاني خبرو او اوربند وي.

په ورته وخت کې که څه هم حکومت په رسمي ډول په بین الافغاني خبرو کې د حکومتي پلاوي د ګډون په تړاو څه نه دي ویلي، خو د سولې عالي شورا وايي چې په یاده ناسته کې به د دې شورا ځینې غړي په انفرادي توګه ګډون وکړي.

د دې شورا غړي عبدالحکیم مجاهد ویلي: «د سولې عالي شورا ته مخکې د مسکو په غونډه کې هم د ګډون بلنه ورکړل شوې وه، ماته هم دعوت راکړل شوی و، خو د ځینو مسایلو له کبله مو پکې شرکت ونه کړ، کېدای شي په راتلونکو غونډو کې هم د سولې عالي شورا غړو ته د شخصیتونو په لحاظ د ګډون دعوت ورکړل شي، نه د سولې عالي شورا د یو هیئت په توګه».

په قطر کې د روانو مذاکراتو له پای ته رسېدو سره همهاله، د بین الافغاني خبرو د پیل په تړاو څرګندونې داسې مهال کېږي، چې حکومت تر اوسه د افغان سیاسیونو او طالب استازو ترمنځ مذاکراتو کې د خپل هیئت د ګډون په تړاو څه نه دي ویلي، خو تردې مخکې ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي وو، چې د سولې د مرکچي پلاوي په ترکیب کې تغیرات راځي او په تړاو یې سلامشورې پیل شوې دي.

# خواجه زاده: ځینې حکومتي کړۍ د اوسپنې د ویلې کولو د صنعت د له منځه وړلو هڅه کوي

د اوسپنې د ویلې کولو د فابریکو ټولنې ویلي، چې په هېواد کې دننه او بهر کې ځینې مافیایي کړۍ هڅه کوي، چې په افغانستان کې دغه صنعت له منځه ولاړ شي.

دې ټولنې ویلي، که څه هم په دې برخه کې په هېواد کې دننه د پام وړ پانګونه شوې او فعالیتونه د سیمې په کچه بشپړ معیاري دي، خو په کور دننه او بهر ځینې کړۍ یې د کارونو پر وړاندې خنډونه جوړوي.

د دې ټولنې رییس پرویز خواجه زاده په کابل کې یوې خبري غونډې ته ویلي، په حکومت کې دننه هم ځینې کړۍ او کسان د دوی د فعالیتونو پر وړاندې ستونزې جوړوي.

پرویز ویلي: «د حکومت په داخل او بیرون کې داسې مافیایي کړۍ دي، چې دوی هڅې کوي چې په هېواد کې دغه ملي صنعت نابود کړي، که یې مخه ونه نیول شي، دغه د ۴۵۰ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت ملي پانګه به له منځه ولاړه شي».



نوموړي که څه هم په کور دننه په ښکاره د چا نوم نه دی اخیستی، خو په خبره یې ګاونډي هېوادونه په ځانګړي ډول، پاکستان او ایران یې د فعالیتونو مخه نیسي.

د دې ټولنې غړي نقیب‌الله نظري ازادي راډیو ته ویلي، چې د هېواد په ګمرکونو کې هم د دوی د کارونو پر وړاندې ستونزې موجودې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ملي یووالي حکومت په راتګ سره چارواکو له پانګوالو سره ژمنې کړې وې، چې په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي او حکومت مکلف دی چې په دې برخه کې ورته لازمې اسانتیاوې برابرې کړي. دا مهال په افغانستان کې د اوسپنې د ویلې کولو ۳۸ وړې او لویې فابریکې فعالیت کوي، چې ځینې د سیمې په کچه سارې نه لري او شاوخوا ۱۲ زره کارګران پکې پر کارونو بوخت دي.

د اوسپنې د ویلې کولو د فابریکو ټولنه وايي، اوس هم له هېواده ګاونډیو هېوادونو ته زړې اوسپنې قاچاقېږي او هم له یادو هېوادونو افغانستان ته پر وارېدونکې اوسپنې باندې تعرفه کمه ده، چې د دوی پر کارونو یې ناوړه اغېز کړی دی.

په ورته وخت کې د کانونو او صنایعو خونې مرستیال عبدالرحیم فیضان هم په یاده غونډه کې له حکومته غوښتي، چې له هرې ممکنې لارې چې وي، دغه ملي پانګه باید له ناوړو پلانونو وژغوري.

هغه زیاته کړې: «دا پانګه چې له منځه ځي، دا د کس نه، بلکې ملي پانګه ده، د دولت پانګه ده، دغه پانګوال یوازې مدیران دي چې مدیریت ورنه کړي، دولت باید له دغې ملي پانګې ملاتړ وکړي او چا ته اجازه ورنه کړي چې له منځه یې یوسي».

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۳۰ |
| € | ۸٤,۷۰ |
| Rp. | ٥٤۰ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۰,۱۰ |
| £ | ۹۷,٥۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 19:15 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۷ د کب ۲۰مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۱۱مه | دویم کال |۳٤۸مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٥ | ١٤ | ١٤ | ١٦ | ١٢ | ١١ |
| -٢ | ٣ | ٥ | ٧ | ٧ | ٣ |

شرعي وختونه: سهار ٠٤:٤٨ | لمر ختل ٠٦:١١ | ماسپښين ١٢:٠٤ | مازيگر ٠٣:٢٥ | ماښام ٠٥:٥٧ | ماخوستن ٠٧:٢١

## نړۍ




## OSCE: د ارمنستان او اذربایجان له سرمشریزې مخکې، د ناګورنو قره باغ د کړکېچ کمول مهم دي




د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان یا OSCE وايي، چې د ارمنستان او اذربایجان د سرمشریزې له پیلېدو مخکې، مهمه ده چې د ناګورنو قره باغ د سیمې پر سر راپورته شوی کړکېچ کم شي.

دغه سازمان په یوه اعلامیه کې ویلي، چې د مینسک ګروپ د ارمنستان د صدراعظم نیکول پاشینیان او د اذربایجان د ولسمشر الهام علییف د وروستیو څرګندونو هرکلی کوي، چې ویلي یې دي، ډېر ژر به سره وګوري.

د دغه سازمان په خبره، دا مهمه ده چې وضعیت په هغه بڼه چې پر اساس یې ګټورې خبرې اترې پرمخ یوړل شي، وساتل شي. دغه حالت ته چې د جګړې په لومړیو کرښو کې په دې وروستیو کې یو د بل لوري ته تلفات نه دي اوښتي، دوام ورکړل شي.

د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان یا OSCE نړیوال څارونکي په سوله ییز ډول د ناګورنو قره باغ د سیمې پر سر د کړکېچ د هواري لپاره هلې ځلې کوي.

دغه سازمان د ارمنستان او اذربایجان پر مشرانو غږ کړی، چې له سرمشریزې مخکې له داسې څرګندونو او عملي اقداماتو ډډه وکړي، چې په سیمه کې د وضعیت د بدلېدو سبب کېږي.

د ارمنستان صدراعظم نیکول پاشینیان او د اذربایجان ولسمشر الهام علییف روانه میاشت وروسته له هغې چې د روسیې، امریکا او فرانسې منځګړو اعلان وکړ، چې دواړه مشران به ډېر ژر سره وګوري، په عام محضر کې پر یو بل تور پورې کړی دی.

## راپورونه: د ایتوپیایي مسافر وړونکې الوتکې د لوېدو په پېښه کې ۱۵۷ کسان وژل شوي دي




د ایتوپیایي بوینګ ۷۳۷ ډوله الوتکې د لوېدو په پېښه کې ۱۴۹ مسافر او اته تنه د الوتکې عمله وژل شوي دي.

دغه الوتکه چې کینیا ته پر لاره وه، تر الوتلو شپږ دقیقې وروسته له رادار ورکه شوې ده. د دغه هېواد لومړي وزیر ابي احمد له پېښې وروسته پر خپل ټوېټر لیکلي: «له ټولو هغو کورنیو سره غمشریکي ښیم چې په دې پېښه کې یې د کورنیو غړي وژل شوي».

د دغه هېواد حکومتي تلوېزیون ته د ایتیوپیا هوايي شرکت ویاند ویلي، چې په الوتکه کې ټول ۱۴۹ مسافر او اته د الوتکې عمله وژل شوي دي. سرچینې ویلي چې په الوتکه کې د ۳۳ هېوادونو وګړي سپاره وو.

د راپورونو له مخې، الوتکه په ځایي وخت د یکشنبې په ورځ اته بجې او ۴۴ دقیقې، د ایتوپیا پلازمېنې له هوايي ډګره تر پورته کېدو لږ وروسته لوېدلې ده.

که څه هم د الوتکې د لوېدو ځای ته بیړنۍ ډلې تللې، خو د راپورونو له مخې، په الوتکه کې ټول سپاره کسان وژل شوي دي.

که څه هم د ایتوپیا دغه حکومتي هوايي شرکت په هوايي چلند کې ښه نوم لري، خو په ۲۰۱۰ ز کال کې د یاد شرکت یوه الوتکه چې بیروت ته روانه وه، د مدیترانې سمندر په اوبو کې ولوېده چې ۹۰ کسان پکې ووژل شول.

هغه مهال د دغه هېواد چارواکو ویلي وو، چې الوتکه له پورته کېدو وروسته په بیشوفتو سیمه کې لوېدلې وه.

## منتقدین: رئیس‌جمهور تاکنون دربارۀ ایجاد کمیسیون برگزاری جرگۀ مشورتی صلح فرمانی صادر نکرده‌است



شورای عالی صلح می‌گوید که رئیس‌جمهور تاکنون دربارۀ ایجاد کمیسیون برگزاری جرگۀ مشورتی صلح فرمانی صادر نکرده‌است.

این جرگه، قرار بود به تاریخ ۲٦ماه حوت برگزار شود. اما منابع می‌گویند که برگزاری این جرگه، تا زمان نامعلومی در سال آینده به تأخیر افتاده‌است.

قرار است در حدود دوهزار تن از سراسر کشور در این جرگۀ شرکت کنند و دربارۀ چگونگی گفت‌وگوهای صلح، مشوره دهند.

سید احسان طاهری، سخن‌گوی شورای عالی صلح گفت: «کار به‌گونۀ نورمال به پیش می‌رود، مانند گذشته. ما تنها منتظر کمیسیون برگزاری لویه جرگه استیم و کمیتۀ بررسی که تاریخ جدید را اعلام کند.»

در همین حال، محمدحنیف اتمر، نامزد انتخابات ریاست‌جمهوری در واکنش به تأخیر افتادن لویه جرگه می‌گوید که رئیس‌جمهور باید توضح بدهد که هدف وی از برگزاری این جرگه چه بوده است که اکنون در برابر آن خاموش است.

آقای اتمر بیان داشت: «در مورد جرگه، باید آن‌ها توضح بدهند که هدف و مرام شان از این جرگه چه بوده است؟ چه می‌خواست و چرا حالا در این باره خاموش است».


یک ماه پیش، رئیس‌جمهور به رئیس دارالانشاء شورای عالی صلح دستور داده بود که این جرگه را برای سه روز در روز بیست ششم ماه حوت بر گزار کند اما این جرگه تا زمانی نا روشنی به علت آن چه نا مناسب بودن هوا گفته شده‌است به تأخیر افتاده است.

در این میان، شماری دیگر رئیس‌جمهور را به بازی سیاسی در این بارۀ متهم می‌سازند.

فوزیه کوفی، عضو ولسی جرگه بیان داشت: «باید روند به گونۀ لازم، شفاف و قابل اعتماد باشد که هیچ گروه سیاسی یا شخصی سیاسی به نفع سیاسی خودش از آن استفاده نکند».


## ژوند

## د نړۍ تر ټولو لوړ بیه موټر معرفي شو



د موټرونو په نړیوال نندارتون کې سږ کال تر ټولو د لوړې بیې موټر ننداري ته کېښودل شو. دغه موټر د (Bugatti) فرانسوي شرکت لخوا معرفي شوی دی. نوم یې (La Voiture Noire) دی او ویل کېږي چې ۱۱ میلیونه ډالره بیه لري، چې تر دې وړاندې په دومره لوړه بیه موټر بازار ته نه دی راغلی. دغه راز ویل کېږي چې بوګاتي شرکت تر اوسه د دغو موټرو همدا یوه نمونه جوړه کړې ده، چې هغه هم ننداري ته له ایښودو مخکې پلورل شوې ده. دغه شرکت د یاد موټر د پېرودونکي نوم نه دی اخیستی. د بوګاتي شرکت مسوولینو ویلي، چې دغه موټر یې د خپل شرکت د ۱۱۰مې کلیزې په مناسبت جوړ کړی دی. له دې وړاندې بوګاتي شیرون موټر د نړۍ تر ټولو ګړندی موټر بلل شوی و. د موټر جوړولو شرکتونه هر کال خپل نوي تولیدات ننداري ته ږدي، چې بېلابېلې بیې لري، خو (La Voiture Noire) د بوګاتي شرکت هغه تولید دی، چې تر اوسه پورې په خورا لوړه بیه پلورل شوی دی. دا چې له دې وروسته به سږ کال کوم بل شرکت له دې هم د لوړې بیې موټر معرفي کړي که نه؟ په اړه یې څه نه دي ویل شوي.

## سالم غذايي رژیم او د ویټامینونو ارزښت



سالم غذايي رژیم کولی شي د انسان د اړتیا وړ ویټامینونه پوره کړي. د هورمونونو بڼې او فیزیولوژیکي شرایطو ته په کتو، نارینه او ښځینه د ویټامینونو بېلابېلو ډولونو او کچې ته اړتیا لري. ویټامینونه د ښې روغتیا لپاره خورا حیاتي ارزښت لري. حیاتي ارزښت ځکه لري، چې له کبله یې د انسان بدن نورماله وده کوي، غذايي مواد په اسانۍ جذب مومي، له ناروغیو مخنیوی کوي او په ټوله کې د بدن مقاومت لوړوي. تر ډېره بدن خپل د اړتیا وړ ویټامینونه (DRI) په ورځني ډول له خپلو خوړو پوره کولی شي، خو ځینې بیا د هغوی د بدن جوړښت ته په کتو او یا هم د ځینو ناروغیو له کبله د اړتیا وړ ویټامین نه شي پوره کولی، نو هغه ده چې بیا د ویټامینونو بستو ته اړتیا لري. د انسان بدن ټولو ویټامینونو ته اړتیا لري، خو ځینې یې بیا ډېر ضروري دي. د بېلګې په توګه، ویټامین (اې) د سترګو د لید او د بدن د مقاومت د لوړوالي لپاره اړین دي. ویټامین (بي ۱) له سلولونو سره مرسته کوي، څو کاربوهایدرېټونه پر انرژۍ بدل کړي. ویټامین (بي ۳) د هاضمې سیستم له حرکاتو او عصبي سیستم سره مرسته کوي. ویټامین (سي) د اوریو او غاښونو د کلکوالي او د زخم له ژر جوړېدو سره مرسته کوي او ویټامین (ډي) بیا په وینه کې د کلسیم کچه نورماله ساتي.